مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۱/۱۲/۰۶

# د داکتر عبدالرازق پالوال په ویر کي

له کندهار ښخه زنګ راغی د سپېدو پر مهال
زړه په لړزه سو چي ایلچي د بد خبر راوړي حال

حدس مي سهي سو خبر وو د دانشمند د مړيني
د داسي پوه چي مونده نه سي په همعصرو کي سيال

هم توکمپوه هم وو ژبپوه هم محقق د تاريخ
هم مربي و هم استاد هم په رشتيا هيوادپال

افسوس خوړلي ئي هر وخت وي د زمان ځپيړي
حسادتونو ئي جوړ کړی وو و مخ ته دپوال

راته نرېږي مو و سترګو ته د پوهي ځلي
راته تشېږي د ادب و د فرهنګ چاپېريال

په پردېسي کي ګلومه د وطن غمونه
څوک نه لرم چي غمشريک مي سي پر مرګ د پالوال

رانازوه ئي لويه خدايه د غفران په تحفو
په جنتو کي ئي کړه ځای ورته تيار و سامبال

ورځ دوشنبي مياشت ده د قوس چي تويوم دا اوښکي
حساب د لمر راته ښيي زر څلور سوه دئ کال

اتاوا, کانادا
6دسمبر 2021


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ